**پر مبدأ ثبات او جوړجاړی نه کول**

پر مبدأ ثبات د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو د پیروۍ په مانا او جنت ته د تګ لاره ده. پر خپله مبدأ ثبات له الله او رسول سره د محبت او تر مرګه پر اسلامي عقیده د استقامت نښه ده.

ثبات په لغت کې تلپاتېوالي یا هم د دلیل پر اساس په دوامداره توګه پر یوه فکر پاتې کېدلو ته وایي. دغه راز ثبات د مېړانې او ښه فعالیت په معنا هم راځي. ثبات په اصطلاح کې په ټینګې ارادې سره د هدایت پر لارې استقامت، پر هغې ټینګ پاتې کېدو او د هغې په دوام اصرار ته ویل کېږي. د شیطاني وسوسو او نفسي غوښتنو تر پښو لاندې کول ثبات غواړي. ثبات د ګناهونو پرېښودو، توبې او الله سبحانه وتعالی ته د تقرب له لارې رامنځته کېږي. الله سبحانه وتعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم او مومنانو ته په خطاب کې فرمایلي دي:

**﴿وَ إِن كَادُوا لَيَفْتِنُونَكَ عَنِ الَّذِى أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ لِتَفْتَرِىَ عَلَيْنَا غَيْرَهُ وَ إِذًا لَّاتَّخَذُوكَ خَلِيلًا(73) وَ لَوْلَا أَن ثَبَّتْنَٰكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْءًا قَلِيلًا (74) إِذًا لَّأَذَقْنَٰكَ ضِعْفَ الْحَيَوٰةِ وَ ضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لَا تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيرًا﴾** [اسراء: 73-75]

***ژباړه:*** *نږدې وه دوی تا له هغه څه څخه چې موږ درته وحی کړي، په فتنه کې واچوي، تر څو ته پر موږ (له وحی پرته) بل څه وتړې، نو په دې صورت کې به دوی تا د دوست په توګه غوره کړي. او که مو ستا قدمونه نه وای ثابت کړي، نږدې وه چې د دوی لور ته ورکوږ شې. که چېرې دې داسې کړي وای، نو موږ به هم په دنیوي ژوند کې او هم تر مرګ وروسته (د مشرکانو) دوه برابره سزا درکړې وای.*

د الهي وحی پرېښودل فتنه او ستره ګناه ده او تر دې لا ستره ګناه پر دین او رسول الله تور پورې کول او د طاغوت حکم ته غاړه ایښودل دي. د ډیموکراسی حاکمیت، له ښکېلاکګرو کفارو سره ملګرتیا او ورسره د اړیکو عادي کول، د لمونځ کوونکو پر مخ د جوماتونو د دروازو تړل، د قرانکریم د حفظ د حلقو تړل، د کعبې د طواف مخنیوی، د حجرالاسود له ښکلولو او د یماني رکن له لمس څخه مخنیوی، په دین پورې د تهمت تړلو موارد دي. دا د هغو اساساتو پرېښودل دي چې الله سبحانه وتعالی په خپل کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو کې راوړي دي.

په یوه حدیث کې چې مالک او حاکم روایت کړی، راځي چې:

**«تَركتُ فِيكُم أمرَينِ لَن تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكتُم بِهِمَا؛ كِتَّابَ اللهِ وَ سُنَةَ نَبِيِّهِ»**

**ژباړه:** *تاسو ته مې دوه شیان پرېښي دي، که پر هغو مو منګولې ولګولې، هېڅکله به ګمراه نه شئ: د الله کتاب او د رسول الله سنت.*

تولې ګمراهۍ او انحرافونه د یادو دوو سرچینو د پرېښودلو له امله دي او له دغو دوو سرچینو پرته په بل هر څه کې د خپلو ستونزو د حل لټول ګمراهي بلل کېږي. له همدې امله علماء او اسلام پلوي د الله سبحانه وتعالی د دې لاندې قول پر دوام ټینګار کوي:

﴿رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوبَنَا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنَا وَ هَبْ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنتَ الْوَهَّابُ﴾ [آل عمران: 8]

**ژباړه:** *اې زموږ ربه! وروسته له هغه چې موږ ته دې هدایت وکړ (په سمه لار دې روان کړو) زموږ زړونه (له حق څخه) مه اړوه او موږ ته له خپل لوري څخه رحمت راوبښه، بېشکه ته غوره ورکوونکی یې.*

پر خپله مبدأ ثبات؛ د منهج صحت، د ایمان قوت او پر الله سبحانه وتعالی د مومن باور په ډاګه کوي. دعوتګر تل د دین پر ضد شومو پلانونو پر وړاندې ویښ وي. د ټولني تریخ واقعیت او انجماد، د دعوت له منلو د خلکو مخ اړول، د لارې اوږدوالی؛ دا ټولې ستونزې د دعوتګر پر رېښتینولی او اخلاص دلالت کوي او ژر به خپلې موخې ته ورسېږي، دعوت به یې تر کومه چې امکان لري، هغه ځای ته ورسیږي او هر څومره چې کافر، فاسق او فاجر د ده او د ده د دعوت پر ضد فعالیت وکړي، فعالیت به یې بې اغېزې وي، خو چې دی فکري ثبات ولري او پر دعوت ثابت پاتې شي او دغه راز الله سبحانه وتعالی به نصرت ورکړي او د ده د کړنو او باور د صحت تر ټولو ستر دلیل د الله سبحانه وتعالی نصرت او ملاتړ دی. «مَا ظَنُّکَ بِاثنَینِ اللہُ ثَالِثُهُمَا» د هغو دوو تنو په اړه څه ګومان کوې چې درېیم ورسره الله تعالی دی.

کله چې دعوتګر پر خپله مبدأ ثابت پاتې شي، خلک باور پرې کوي، پر خلکو اغېز کوي او سکون مومي. د مصیبت پر وخت ده ته ورځي او د حل لار ترې غواړي ـ الله د خپل امر سر ته رسوونکی دی ـ او هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاندې وینا ورته کوي:

**«وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ اللَّهُ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِن صَنْعَاءَ إلى حَضْرَمُوتَ مَا يَخَافُ إِلَّا اللَّهَ أوِالذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ، وَلَكِنَّكُمْ تَستَعْجِلُونَ» (رواه بخاری)**

**ژباړه:** *قسم په الله! چې دا دین به داسې بشپړ او ځواکمن شي چې مسافر به له صنعاء تر حضر الموت پورې په داسې حال کې لاړ شي چې د الله تعالی له وېرې پرته به یې په زړه کې هېڅ وېره نه وي. دا وېره به هم نه لري چې لېوان یې پسونه وخوري. خو تاسو اوس هم تلوار کوئ ـ صبر ولرئ.*

همدارنګه د تمیم الداري رضی الله عنه روایت ورته وړاندې کوي، چې ويې ويل له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل:

**«لَيَبلَغَنَّ هَذَاالأمرُ مَا بَلَغَ اللَيلُ وَالنَّهَارُ، وَ لَا يَترُکُ اللهُ بَيتَ مَدَرٍ وَ لَا وَبَرٍ إلَّا أدخَلَهُ اللهُ هَذَا الدِّينَ، بِعِزِّ عَزِيزٍ أو بِذُلِّ ذَلِيلٍ؛ عِزّا يُعِزُّ اللهُ بِهِ الإسلَامَ وَ ذُلًّا يُذِلُّ اللهُ بِهِ الکُفرَ»** (رواه احمد فی مسنده)

***ژباړه:*** *دغه امر (د اسلام دین) به هغه ځای ته رسېږي چې شپه او ورځ ور رسېدلې وي. الله سبحانه وتعالی دا دین تر هر کور او هرې خیمې پورې رسوي، هر کور ته عزت پرې وربښي او دښمنان يې ذليلوي؛ هغه چا ته عزت ورکوي چې دا دین ومني او هغه څوک ذليلوي چې مخالفت ورسره وکړي.*

دعوتګر ستونزو او واقعیت ته نه تسلیمېږي، د وارخطا او بې ځایه حماسه ویونکو د غوښتنو تر اغېز لاندې نه راځي او له خپلو اساساتو  او ثبات څخه نه لرې کېږي. دغه راز په خبرو اترو کې غیر شرعي حللارو ته غاړه نه ږدي او د منځلاریتوب د حل مفکوره نه مني، ځکه حق ده ته د دې اجازه نه ورکوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلاف ګام پورته کړي. ان که يې له دعوت څخه ټول خلک مخ واړوي هم، دعوتګر له خپل دریځ څخه نه راټیټېږي. په دعوت کې د دې اجازه نشته چې څه دې په زړه وي ويې مني او څه چې د په زړه نه لګېږي پرې يې ږدي! د الله سبحانه وتعالی دین ته به یوازې هغه څوک نصرت ورکوي چې په هر اړخيز ډول يې ومني او په ژوند کې يې پلی کړي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت چې صادق مومنان پرې ثابت پاتې کېږي په لاندې ډول دی:

«تاسو دې ته رابولو چې شاهدې ورکړئ چې له الله تعالی پرته بل هېڅوک د عبادت وړ نه دي او محمد د الله رسول دی. ماته پناه راکړئ او ملاتړ مې وکړئ، ځکه قریش د الله د دین پر ضد راپورته شول او د هغه رسولان يې دروغجن وبلل، د حق پر ځای يې باطل غوره کړ. الله تعالی بې نیازه او ستایل شوی ذات دی.» الله سبحانه وتعالی په خپل دین کې سستو، بې ثباته او بدلېدونکو انسانانو ته اړتیا نه لري. د بېلګې په وړاندې کولو سره دا مقوله لا ښه واضح کېږي: په خپل موقف ثابت پاتې کېدل او د «احد احد» لفظ ويل د بلال بن رباح رضی الله عنه په دريځ کې يوه غوره بېلګه ده، چې هغه له خپل دريځ څخه تېر نه شو او بالاخره الله سبحانه وتعالی مرسته ورسره وکړه. خبیب بن عدي رضی الله د اسلام دښمنانو د هغه د سر وهلو لپاره راوغوښت او ورته ويې ويل: «خوښه دې ده چې د تا پر ځای د محمد سر ووهو او ويې وژنو؟»

هغه رضی الله عنه وویل: «قسم په الله چې دومره مې هم نه خوښېږي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پښه کې اغزی ولاړ شي او ويې ځوروي.» دا خباب رضی الله عنه و چې د ام انمار په شکنجو يې صبر کاوه، چې کله يې ویلې شوې او سره اوسپنه پر تندي ورکېښوده او له ډېره درده يې غوښې اوبه شوې، خو

بیا هم په خپل دریځ ولاړ و او کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده له څنګ څخه تېرېده ویل به یې: «یا الله! له خباب سره مرسته وکړه!» ... که نورې بېلګې راوړو بحث اوږدېږي.

په پایله کې باید ووایو چې هر مسلمان باید پر دې پوه شي، چې پر خپله مبدأ ثبات په خپل ذات کې نصرت دی. د دین نصرت باید ټولیز او هر اړخیز وي، هر هغه څوک چې د دعوت شرف، مقام او د رسول الله پیروۍ ته ژمن وي، نو باید اسلام ته هر اړخیز او ژر نصرت ورکړي او ثابت پاتې شي. «اې رسول الله! له تا سره بیعت کوو، چې امر دې واورو پر ځای کوو یې. چې په هر حالت کې وو، که خوشاله وو او که غمجن او که سختي وي که اساني. امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوو، حق وایو او د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتۍ وېره نه لرو.»

نو دعوتګرانو ته پکار ده چې په سختۍ او اسانۍ کې یو بل ته د صبر سپارښتنه وکړي. دغه راز د ثبات او ثابت قدمو د اخلاقو خپلولو لپاره حریص وي! موږ د فتنو په زمانه کې ژوند کوو، زموږ په لاس کې د الله له کتاب او د رسول لله له سنتو پرته بل څه نشته چې منګولې پرې ټینګې کړو او ثابت قدمه شو. نصرت یوازې د الله سبحانه وتعالی له لوري دی، چې ماتې نه منونکی او با حکمته دی. الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

﴿إِن تَنصُرُوا اللهَ يَنصُرْكُم﴾ [محمد: 7]

*ژباړه: که د الله تعالی دین ته نصرت ورکړئ، هغه سبحانه وتعالی تاسو ته نصرت درکوي.*

**لیکوال: سعید الکرمی (ابوعبدالرحمن)**

**ژباړن: حبیب الله حبیب**

د محرم ۲۴مه، ۱۴۴۴هـ.ق

دوشنبه، د اګېسټ ۲۲مه، ۲۰۲۲م